انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۹/۳۰

# د وطن د لارې لومړني شهیدان:

د ۱۳۵۲ کال د سرطان د میاشتې په ۲۶ نیټه، د سردار محمد داوود خان په مشرتوب چې د اعلیحضرت محمدظاهرشاه د کاکا زوی، د خور میره او له ۱۹۳۳م کال نه تر ۱۹۴۳م کاله پورې د هیواد صدراعظم و، یوه نظامی کودتا وشوه. دی کودتا د لومړی وار د پاره د هیواد سیاسی نظام ته تغییر ورکړ او د شاهی نظام په ځای یی د جمهوری نظام اساس کینود. په دی کودتا کی د عبدالقدوس لودین له قوله د اردو دری سوه منصبدارانو برخه اخستی وه. ښاغلی لودین د خپل تحقیقی اثر (افغانستان در جولانګاه افراطګرایی) په ۵۷ مخ کی داسی لیکی:

«در کودتای ۲۶ سرطان حدود سه صد تن از افسران نظامی شرکت جسته بودند، که بعضی ها طرفداران شخصی داوود خان و برخی دیگری اعضای سازمان های سیاسی چپ طرفدار ماسکو و یا اعضای سازمان مخفی انقلابی قوای مسلح افغانستان بودند. این سازمان درسال ۱۹۶۴ م توسط دستګاه استخباراتی نظامی اتحاد شوروی در افغانستان تأسیس گردیده بود. گمان برده می شود که این افسران به دستور ماسکو و وساطت داکتر حسن شرق به داوود خان معرفی و در بر اندازی نظام سلطنت با او همکاری کردند.» د یو څو نورو خبرو وروسته ښاغلی لودین زیاتوی:

« در کابینه نخستین جمهوریت، دا کتر محمد حسن شرق که بسیار طرف اعتماد داوود خان بود، به صفت معاون صدارت تعیین گردید و امور اجرائی کشور را بدست گرفت. هکذا افراد دیگری از جناح چپ مانند فیض محمد به صفت وزیرامور داخله، پاچاگل وفادار به حیث وزیر امور سرحدات، غلام جیلانی باختری (پسر خاله ببرک کارمل) به حیث وزیر امور زراعت، عبدالحمید محتاط به حیث وزیر مخابرات و نعمت الله پژواک به صفت وزیر معارف تعیین شدند...... فیض محمد وزیر داخله با استفاده از مقامش ۱۶۰ تن از پرچمی ها را در ولایات و محلات به پست های حساس گماشت.» ښاغلی لودین وروسته د همدی کتاب په ۵۸ مخ کی لیکی: «درین مرحله رهبران جناح به دو دلیل در دولت ظاهر نگردیدند:

- یکی به دلیل عدم موافقت داوود خان که شرکت افراد مشهور حزب دیموکراتیک خلق را در دولت خطرناک و باعث تحریک احساسات مردم میدانست.
- دوم به دلیل عدم اصرار رهبران این حزب و اتحاد شوروی که این مرحله را گام نخستین برای مراحل بعدی دانسته و می خواستند تصفیه مخالفان سیاسی آنها توسط داوود خان صورت گیرد و بار ملامتی به دوش او گذاشته شود و در نتیجه راه برای رسیدن به اهداف نهائی کمونیست ها توسط محمد داوود هموار گردد»

د دی یادونو نه زما هدف دلته دادی چی دی کودتا ته د انقلاب نوم د همدی هدف د پاره ورکړل شو چی د ماسکو طرفداران په سړه سینه و کولای شی چی خپل سیاسی مخالفین پدی عبوری مرحله کی په مکله توګه له منځه یوسی. حال داچی د سردار محمد داوود خان او ملګرو هلی ځلی داسی روانی وی چی د ده سیاسی مخالفان د ده تابعت وکاندی او د جمهوری نظام تر څنګ د یوه آباد افغانستان د پاره ودریږی. په دی برخه کی د ماسکو په اشاره او د داکتر شرق د دکتورینو له مخی د نظام مقتدر چپی عناصر په دی و توانیدل چی په خپلو مخالیفینو په ډیری تیزی سره حملی پلان کاندی او سردار محمد داوود خان ته دا موقع ورنکړی چی د سیاسی مخالیفینو سره خو څه چی حتی د خپلو ډیرو پخوانیو دوستانو سره هم اړیکی ونیسی دوی په ډیری چټکی سره یعنی دوه میاشتی او اوه ورځی د کودتا نه وروسته د دسمبر د میاشتی په ۲۲ نیټه د رادیو افغانستان نه اعلان وکه چی پخوانی صدراعظم محمدهاشم میوندال او دده ملګرو د یوه خارجی هیواد په مرسته کودتا کوله و نیول شول. میوندوال په یقین سره چی د ماسکو د کمونیست پلوه چپ یانو د پاره د یوه مقتدر، مستدلل او په هیواد کی د ملی دیموکراتیک غورزنګ د یوه هوښیار او مدبر مخکښ په توګه لکه د یوه غره حیثیت لروده، چی د ده په شتون کی او خصوصاً د سردار محمد داوود سره په څنګ د ودریدلو په صورت کی دوی په دی نشو بریالی کیدلی چی خپلو شومو هدفونو ته ځان ورسوی. برسیره پردی ډاکټر محمدحسن شرق چی د اوږدو کلونو را په دی خوا د ماسکو له لوری د سردار محمد داوود خان په څنګ کی د لستونی د مار په توګه په مهارت سره ځآی په ځای شوی وو، تر بل هرچا ډیر ښه پوهیده چی په هیواد خصوصاً په نظامی ساحه کی د سردار صاحب ملګری او دوستان کوم دی چی سردار صاحب ورباندی باور کولی شی او دا باور به ددی سبب جوړشی چی د دوی واړه کوداتاچیان ملګری به بی موقفه او د سردار صاحب نظرته په اصلی بڼه ور څرګند کاندی.

د غوث الدین فایق له قوله چی په خپل کتاب (رازی را که نمیخواستم افشا شود) چی مفهوم یی داسی دی لیکی: «د کودتا په دویمه ورخ جنرال مستغنی، جنرال سیدحسن خان او مرستیال خان محمد خان محمد داوود خان ته ورغلی وو، محمد داوود خان له دوی څخه غوښتنه وکړه چی یو له تاسو څخه باید د دفاع وزارت د کارونو د سمبالولو د پاره هغه وزارت ته ولاړ شی، خان محمد خان تلوار وکړ او د دفاع وزارت ته ولاړ. زه فایق محمد داوود خان، د خان محمد خان د مراقبت د پاره د ده سره هلته ولیږلم. خان محمد خان د دفاعی د وزارت چوکی اشغال کړه او دوه ساعته وروسته چا ماته خبر راکړ چی جنرال مستغنی د لوی درستیز په حیث و ټاکل شو.» عبدالغفار فراهی په خپل اثر(افغانستان د دیموکراسی او جمهوریت په کلونو کی) لیکی « عبدالصمد غوث په خپل اثر کی د سردار محمد نعیم خان له قوله لیکی چی جمهوری دولت اراده درلودله چی محمد هاشم میوندوال په واشنګټن کی د افغانی سفیر په حیث مقرر کاندی.

ماته هم دا خبره معلومه ده چی ماما زرغون شاه، نائب الحکمه عبدالله خان وردک او د ملی شورا څو وکیلانو هم د مرحوم شهید باز محمد خان له لاری، د نیولو د تاریخ نه دوه ورځی وروسته د سردار محمد داوود خان سره د ملاقات وخت درلوده خو د ټاکلی نیټی نه د مخه و نیول شو.

دا ټول هسی شواهد دی چی په جمهوری نظام کی ماسکو پلوه عناصرو په هیڅ وجه نه غوښته چی سردار محمد داوود خان ته د هغه پخوانی دوستان که په ملکی ساحه کی وو او که په نظامی برخه کی، ورنژدی شی او یا هغه ته دا موقع په لاس ورشی چی سیاسی مخالفینو سره اړیکی ونیسی او د یوه قوی ملی جمهوری نظام بنیاد کیښودل شی. د دی کار د پاره ډاکټر شرق د سردار صاحب سره د ملاقاتونو وظیفه په غیر وظیفه وی توګه داخله وزیر فیض محمد

ته وسپارله تر څو هغه کسان چې سردار محمد داوود خان ورباندې دوست په توګه باور کولی شو، ده ته ور ونه نشی رسیدلی.
سردار محمد داوود خان د جمهوری دولت د اعلان په اوله ورځ د افغانستان خلکو ته په خپله لومړنۍ وینا کې وویل چې ما لس کاله فکر وکړ او انتظار می و ویست چې دولت به د خلکو په ژوند کې د مثبت بدلون د پاره ګام پورته کړی او تغییر به راولی، خو دا کار ونشو او ورځ تر بلې حالات مخ په خرابیدو شو. مونږ بله لاره و نه میندله بې له دی چې په انقلابی عمل لاس پورې کړو. (دا به عینی هماغه کلمات نه وی خو په مفهوم کې توپیر نشته. لیکونکی).
اوس نو تاسو لوستونکی فکر وکړی چې سردار محمد داوود خان چې یو جنګ دیده، تجربه کار مسلکی جنرال، د دفاع وزیر او په عسکری مسلک کې د سلګونو او حتی زرګونو لویو او وړو منصبدارانو سره د قوی اړیکو لرونکی شخص، له لسو کالو نه خامخا پنځه کاله په دی تیروی چې څنګه یو بریالی کودتا سرته ورسوی او استبداد ته خاتمه ورکاندی؟ خو هاشم میوندوال یو ملکی شخص، یو ملی سیاست مدار چې اصلاً د کوتا له لاری قدرت ته رسیدل یی په نظریاتو بیخی ځای نه لری، په مسلکی او نظامی برخه کې پنځه تنه منصبدار نه پیژنی او په دوه میاشتو کی، هم د کوم خارجی هیواد سره د کودتا د پاره اړیکی نیسی اوهم په داخل کی ګڼ شمیر داسی منصبدارانو چې تول یی د سردار محمد داوود خان نژدی ملګری او دوستان دی په ځان په داسی حالاتو کی چې نیمه اضطراری بڼه لری راټولوی، هغوی ته قناعت ورکوی، په هغوی باور کوی، د کودتا پلان طرحه کوی، او تر ټولو مهمه دا چې په صحی لحاظ نیمه انسان دی، ولی بیا هم دومره ستر کار ته لاس اچوی، ایا دا به انسانی عقل او منطق سره څومره سمښت او توافق ولری؟
تاسو وګوری چې د میوندوال سره د کودتا په اتهام په کوم ترکیب کسان زندان ته اچول کیږی.
محمدهاشم میوندوال، د ننګرهار پخوانی والی خان محمد خان مرستیال چې د دفاع و د وزارت وعده ورسره شویده، د هوایی قواو پخوانی قوماندان جنرال عبدالرزاق خان، جنرال عبدالجبار ملکیار، جنرال عبدالسلام ملکیار، د حربی تخنیک د ښونځی قوماندان ډګروال ماما زرغون شاه، د هوایی قواوو قوماندان ډګروال سید امیر، د حربی پوهنتون استاد ډګروال کوهاټ خان، متقاعد ډګروال شیرافضل افریدی، متقاعد ډګروال شیرافضل مومند، سوداګر محمد عارف شینواری د ولسی جرګی ځنی غړی او څو نور کسان چې شمیر پنځه څلویښت تنو ته رسیده. ایا تر اوسه داسی کومه کودتا د سردار محمد داوود خان د کودتا په شمول د نړی په تاریخ کی چاته معلومه ده چې د نظامی افرادو نه پکی د ملکی او قومی خلکو شمیره زیاته وی؟ که چا لیدلی وی چیرته او په کوم هیواد کی؟
که خبره را لنډه کړو نو دی نتیجی ته رسیږو چې د شهید میوندوال په نوم کودتا یوه خالی کودتا او یوه عینی دسیسه وه چې د حسن شرق د ملګرو له خوا د شوروی په غوښتنه د شهید میوندوال او څو نورو وطندوستانو د له منځه وړلو د پاره پلان شوه، جعلی اسناد برابر شول او لکه پاچا ګل وفادار چې په ۲۰۱۷ کال کی د پیام افغان د تلویزیون د مشر ښاغلی عمر خطاب سره په تیلفونی مصاحبه کی اعتراف وکړ چې « مونږ اسناد جوړ کړل او د وکیل سیف الرحمان یوه کورنی دوست ته مو ورکړل چې د هغه د مهمان خانی د بخاری په سوری کښی کیږدی. د دی شخص موسره چې یوعسکری منصبدار و او په وطن کی کومه د بدۍ او دښمنی ستونزه لروده، د هغه په غوښتنه وعده وکړه چې د څو کالو د پاره یی خارج ته ولیږو. هغه دا کار وکړ او د میوندوال په مشری مو دا کسان چې تاسو سره یی لیست دی ونیول».

ما ځو کرته د ټولو هغه کسانو نه چې د میوندوال کودتا یو واقعیت بولی د سلطان علی کشتمند، نبی عظیمی، حسن شرق او نورو نه غوښتنه وکړه چې که د تاسو سره بی د هغو جبری او جسمی ازار ورکولو له مخی د اعترافاتو نه غیر د دی کودتا کونکو په هکله، کوم اسناد په هره ژبه موجود وی لطفاً یی را میدان ته کړی چې دا کشاله حل شی. خو تر ننه پوری هیڅا هم و نه شوکولای چې د هماغو شکنجه یی لیکنو او کستونو څخه پرته نورداسی اسناد چې د کودتا په کولو د رښتینوالی مهر ولګوی، ارائه نشو کړلی، ځکه یی دا کار ونه شو کولی چې دا حقیقت نه بلکی یوه دسیسه وه چې په حقیقت کی د لری هدف د پاره د سردار محمد داوود د له منځه وړلو په منظور طرحه او عملی شوه.

**نو ځکه زه شهید محمد هاشم میوندوال، شهید خان محمد خان مرستیال، شهید ماما زرغون شاه، شهید سید امیر، شهید وکیل سیف الرحمان او شهید عارف شینواری په وروستی نیمه پیړی کی د وطن د لاری لومړنی شهیدان او قربانیان بولم. چې وروسته یی بیا په ډیر بیرحمانه شکل د شهید سردار محمد داوود خان او ورسره یی دټولی بیګناه کورنی شهادت، بیا د هیواد د بل ریښتینی زوی شهید محمد موسی شفیق شهادت او تر هغی را وروسته په دی تیرو شپږ څلویښتو کالو کی تر ننه پوری د هیواد، د ملیونو شهیدانو پیل د شهید میوندوال اود هغه سره یوځای د هغه د نورو مظلومو د کودتا د تومت په نوم د ملګرو نه شویدی.**

لا هم نه پوهیږو چې تر کومه په دوام ولری او څومره په نور د وطن ځوان بچی، پوهان او عالمان، سپین ږیری، سپین سری او ګلالی ماشوانو د نورو د ګټو د پاره تر خاورو لاندی کیږی؟ مونږ نور هیڅ نشو کولی، یواځی همدومره ویلی شوه چې د وطن د ساتنی، آزادی او آبادی د لاری د ټولو شهیدان اروا دی ښاده وی. د افغان ولس ټول داخلی او خارجی دښمنان دی ذلیل او خوار وی. آمین.

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چې د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چې، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

د وطن د لاری لومړني شهیدان:
kliwal_s_de_watan_delaarey_lomlai_shahidaan.pdf